مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ډاکټر لودویگ آدمک
ترجمه: رحمت آریا

۲۰۲۶/۰۳/۱۱

# د افغانستان بایوګرافیکي قاموس
## دوهم ټوک
## (شپاړلسمه برخه)

### غلام علي آئـین

د غلام حیدر زوی د ۱۹۲۳ز کال د اپریل د میاشتي په ۱۶ نــېټي د پروان په ولایت کې زېږېدلی دئ. له ۱۹۴۵ تر ۱۹۴۸ز کال پورې ئـې د کابل په دارالمعلمینو کې تحصیل وکړ او په ۱۹۵۲ز کال کې ئـې خپل لیسانس د کابل پوهنتون د ساینس له پوهنځي څخه په ریاضیاتو او فزیک کې تر لاسه کړ. په ۱۹۵۷ز کال کې ئـې خپله ماستري د کابل له پوهنتون څخه په تعلیمي نصاب او تدریس کې ترلاسه کړه. له ۱۹۶۳ تر ۱۹۶۶ز کال پورې د امریکا د متحده ایالاتو د کولمبیا د پوهنتون د ښوونکو د روزني پوهنځي ته لاړ او په تعلیمي او تربیتي سوسیالوژی کې د دکتورا کاندید ته تصدیق سو. له ۱۹۵۲ تر ۱۹۵۴ز کال پورې د کابل په دارالمعلمینو کې د ریاضیاتو استاد. له ۱۹۵۴ تر ۱۹۵۶ز کال پورې د کابل، د ښوونکو د روزني د ډلي لپاره د کولمبیا د پوهنتون د ښوونکو د روزني د پوهنځي مشر سیال/ جوړه[1]. له ۱۹۵۸ تر ۱۹۵۹ز کال پورې د کابل د دارالمعلمینو مدیر. له ۱۹۵۹ تر ۱۹۶۳ز کال پورې د کابل پوهنتون د ساینس د پوهنځي د ساینس د روزني پوهیالی. له ۱۹۶۶ تر ۱۹۶۷ز کال پورې د مقایسوي روزني او د روزني د فلسفي پوهیالی. په ۱۹۶۷ز کال کې د کابل پوهنتون د څېړنو د مرکز مشر. په ۱۹۶۷ز کال کې د معارف په وزارت کې د ثانوي تدریساتو د ریاست رئیس. په ۱۹۶۸ز کال کې د کابل پوهنتون رئیس. له ۱۹۶۹ تر ۱۹۷۱ز کال پورې د مشخص وزارت له لرلو پرته وزیر. له ۱۹۷۲ تر ۱۹۷۳ز کال پورې د بدخشان والي. په ۱۹۷۳ز کال کې د کابل والي؛ له ۱۹۷۵ تر ۱۹۷۸ز کال پورې د هرات والي. په ۱۹۷۸ز کال کې د ثور اونیو لپاره د کابل د پلچرخي زندان ته واچول سو. د ګڼ شمېر مقالاتو او تدریسي کتابونو مؤلف. مورنی ژبه : پاړسي. وادهٔ ئـې کړی او پینځه ماشومان لري. اوس د امریکا په متحده ایالاتو کې ژوندکوي.

### محمد ابراهیم یما زاده

د محمد مهدي زوی په ۱۹۳۱ز کال کې په هرات کې زېږېدلی دئ. تر لسم ټولګي پورې ئـې په هرات کې زده کړې کړي او بیا ئـې ژوند ژواک په سوداګری کې تېر کړی دئ. یو مشهور شاعر سو.

[1] -Senior Counterpart


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په څیر و لولئ

**ایماق** : وګوری : ایماق

## غلام محي الدين ايوبي

په ۱۹۳۰ز کال کې په کندهار کې زېږېدلی دئ. د کابل پوهنتون د ادبياتو له پوهنځي څخه ئې ليسانس تر لاسه کړی دئ. د پروان او غزني په ولايتونو کې د اطلاعاتو او کلتور مدير. د کابل د کلنی محرر. د کندهار د اطلاعاتو او کلتور مدير. مورنی ژبه ئې پښتو ده.

## عبدالغفار آزاد

د مرکزي کميټي غړی. د هرات د ګوندي کميټي منشي. په ۱۹۸۳ز کال کې د هرات والي.

### مير محمد علي آزاد

د قاضي مير محمد حسن‌زوی(چې اکا ئې مير عبدالقاسم د امير عبدالرحمن خان او امير حبيب الله د دربار منشي وو) په ۱۸۷۹ز کال کې د کابل په بالاحصار کې زېږېدلی دئ. له خپل اکا څخه ئې زده کړې تر لاسه کړې دي. په ۱۹۲۰ز کال کې په تهران کې شارژدافير. د باندنيو چارو په وزرات کې د اسلامي هېوادونو د چارو مسؤول. د ۱۹۳۰ز لسيزې په اوږدو کې د فارس په سيستان کې قنسل. د نادر شاه پرمهال د ولسي جرګې غړی. شاعر او د دهٔ د اشعارو د يوې ټولګې په ګډون د ګڼ شمېر کتابونو مؤلف. په ۱۹۴۳ز کال کې وفات سوی دئ.

## ډاکټر غلام فاروق اعظم

د اختر محمد زوی په ۱۹۴۵ز کال کې په کندهار کې زېږېدلی دئ. په جومات او يوې مدرسي کې ئې تر هغو زده کړه وکړه چې په ۱۹۵۵ز کال کې د محمد داؤود له پلوه فسخه سوه. ورپسې د کندهار د ميرويس نيکه ليسي ته او بيا د کابل پوهنتون د اقتصاد پوهنځي ته لاړ او په ۱۹۶۸ز کال کې ورڅخه فارغ سو. د هلمند د درې د پرمختيايي پروژې رسمي مأمور. په ۱۹۷۱ز کال کې د HVA د پلان جوړولو د رياست د احصائيي مدير. له ۱۹۷۲ تر ۱۹۷۵ز کال پورې ئې د بيروت په امريکايي پوهنتون کې د کرني اقتصاد ولوست؛ او په ۱۹۷۵ز کال کې ئې د لندن SOAS کې اقتصاد او جغرافيه ولوستله. په ۱۹۷۵ز کال کې بېرته افغانستان ته راستون سو. په ۱۹۷۵ز کال کې د کرني د پراختيا د HVA مرستيال رئيس. په ۱۹۷۷ز کال کې د پلان جوړولو او احصائيي HVA عمومي رئيس. په ۱۹۷۸ز کال کې د نيمروز د اوبو لګولو د پروژې رئيس. د اوبو او د برېښنا د وزارت تخنيکي سلاکار خو له دې وروسته ډېر ژر له ۱۹۷۸ تر ۱۹۸۰ز کال پورې د دهمزنګ او پلچرخي زندانونو کې زنداني سو. کله چې آزاد سو پاکستان ته لاړ او دلته د سيد احمد ګيلاني مرستيال سو. پر افغانستان باندې د شوروي يرغل په هکله د يوهٔ کتاب مؤلف.

## عبدالصمد ازهر

د لغمان بومي اوسېدونکی. په مصر کې روزل سوی د پوليسو افسر. په ۱۹۷۳ز کال کې د ميونداول په چارو کې د ولسمشر داؤود د تحقيقاتي ډلې غړی. په ۱۹۷۴ز کال کې د هرات د پوليسو مشر. په ۱۹۷۹ز کال کې ونيول سو او د۱۹۸۰ز کال تر جنورۍ پورې په زندان کې وساتل سو. د ۱۹۸۰ز کال د جنورۍ په مياشت کې د «څارندوی» [2] بولندوی.

---

[2] -Tsarandoy



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

د امنيتي ځواکونو مشر. د مرکزي کميټي علی البدل غړی او د انقلابی شوری غړی. د سويلي زون مسؤول او د کندهار والي. په ۱۹۸۲ز کال کې د کيوبا سفير. د ۱۹۸۶ز کال په دسمبر کې د هندوستان سفير.

## سيد جان اظهر

په مزار شريف کې زېږېدلی دئ. د امريکا له متحده ايالاتو او د بيروت له امريکايي پوهنتون څخه ئې ماستري د ښوونې او روزنې په ډګر کې اخيستې ده. ښوونکی او ليکوال. د کابل پوهنتون استاد.

## شريف آژير

په ۱۹۲۴ز کال کې زېږېدلی دئ. د نجات په ښوونځي کې ئې زده کړې کړې دي. له ۱۹۴۸ تر ۱۹۵۴ز کال پورې د مطبوعاتو د رياست مأمور. د ژوندون د مجلې سر محرر. د باندنيو چارو په وزارت کې د ويزې د مديريت رسمي مأمور. په ۱۹۵۹ز کال کې په بن کې د افغان سفارت لومړی سکرتر. د پروتوکول د عمومي مدير مرستيال. له ۱۹۶۰ تر ۱۹۶۳ز کال پورې د تهران شارژدافير. له ۱۹۶۵ تر ۱۹۶۶ز کال پورې په توکيو کې شارژدافير. له ۱۹۶۷ تر ۱۹۷۰ز کال پورې د جرمني په بُن کې مختار قنسل. له ۱۹۷۱ تر ۱۹۷۲ز کال پورې د باندنيو چارو په وزارت کې د کلتوري چارو د ديپارتمنت مشر. له ۱۹۷۷ تر ۱۹۷۸ز کال پورې د هندوستان په بمبئي کې جنرال قنسل. له مېرمن سارا سره ئې وادهٔ کړی دئ او د عابدې او رودابې په نومونو دوه لوڼې او د عثمان په نوم يو زوی لري.

## ډاکټر محمد ابراهيم عظيم

د ۱۹۸۰ ز کال له جنورۍ څخه تر ۱۹۸۲ز کال پورې د عامې روغتيا وزير. د ياسين ورور، چې شرحه ئې لاندې راځي. دی د ببرک کارمل په کابينې کې وو خو د ګوند غړی نـهٔ وو.

## ډاکټر محمد ياسين عظيم

د محمد عظيم زوی په ۱۹۲۷ز کال کې په کابل کې زېږېدلی دئ. له ۱۹۳۵ تر ۱۹۴۵ز کال پورې ئې د لومړنې او منځنې ښوونځي زده کړې د حبيبيې په ليسې کې بشپړې کړې دي. له ۱۹۴۵ تر ۱۹۵۰ز کال پورې د کابل پوهنتون ته لاړ او خپل ليسانس ئې په زولوژي او کيميا کې تر لاسه کړ. له ۱۹۵۳ تر ۱۹۵۴ز کال پورې د امريکا د متحده ايالاتو د مونتانا د ايالات د مونتانا دولتي پوهنتون ته لاړ او خپله ماستري ئې په فيزيولوژي او زولوژي کې تر لاسه کړه. له ۱۹۵۸ تر ۱۹۶۱ز کال پورې د وايومينګ پوهنتون ته لاړ او خپله دکتورا ئې په فيزيولوژي او زولوژي کې تر لاسه کړله. په ۱۹۵۰ز کال کې د کابل پوهنتون د ساينس د پوهنځي پوهيالی. په ۱۹۵۴ز کال کې پوهنيار. په ۱۹۵۶ز کال کې د ساينس، کرنې او د انجنيري د پوهنځيو مرستيال رئيس. په ۱۹۶۱ز کال کې پوهاند. په ۱۹۶۲ز کال کې د کرنې او د انجنيرې د پوهنځيو سرپرست رئيس. په ۱۹۶۲ز کال کې پوهاند. د ۱۹۶۴ز کال د مارچ په مياشت کې د کابل پوهنتون د ښوونې او روزنې د انستيتيوت مرستيال رئيس. د ۱۹۶۵ز کال د نوامبر په مياشت کې د همدې انستيتيوت رئيس. د ۱۹۶۸ز کال د اکتوبر په مياشت کې د کابل پوهنتون مرستيال رئيس. د ۱۹۷۱ز کال د مارچ په مياشت کې د معارف د وزارت لومړی مرستيال وزير. د ۱۹۷۱ز کال د اپريل په مياشت کې د کابل پوهنتون سرپرست رئيس. د ۱۹۷۲ز کال د جنورۍ په مياشت کې د معارف وزير. د امريکا په متحده ايالاتو، سيرلانکا او لبنان کې ئې په ګڼ شمېر روزنيزو پروګرامونو، سيمينارونو او کنفرانسونو کې ګډون کړی دئ. د ۱۹۷۲ز کال په لړ کې په پاريس کې د يونسکو


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

عمومي غونډې ته د افغانستان د پلاوي مشر. د ۱۹۷۱ زکال د جولای د میاشتې له ۱۷ څخه نیولې د ۱۹۷۷ز کال د مې د میاشتې تر ۲۱ نېټې کې په خپل کور کې بندي وو. د ۱۹۷۷ز کال د مې د میاشتې له ۲۱ نېټې وروسته د چین په ولسي جمهوریت کې د افغانستان سفیر. اوس د امریکا په متحده ایالاتو کې استوګنه لري.

## نور بيا

## عبدالسلام عظيمي

**د داؤود د جمهوريت پر مهال د کابل پوهنتون...**

قدرمنو لوستونکو! د ښاغلی رحمت آریا د آرشیف: لینک



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ